اوونیزه
هفته نامه
# معارف

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۷) ماه صفرالمظفر ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه اسد ۱۴۰۴ هـ ش.

خپل اولاد د علم زده کړې ته هڅول له هغوی سره واقعي مینه ده

سرمقاله

## مدرسه او ښوونځی د ملت د روښانه راتلونکي دوه وزرونه

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ
وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

په یوه داسې ټولنه کې چې د دیني ارزښتونو او فرهنګي میراثونو له پلوه شتمنه ده، تعلیم نه یوازې د شخصي ودې وسیله ده، بلکې د ټولنیز عدالت، ملي یووالي، او پایدار پرمختګ لپاره بنسټیزه ارتیا ګڼل کېږي. په دې بهیر کې، دیني مدرسې او ښوونځي دواړه د ملت د ودې او سوکالۍ لپاره لکه د الوتونکي مرغه د دوه وزرونو رول لوبوي، دیني مدرسې د اسلامي عقایدو او دیني زده کړو مرکزونه دي. دا بنسټونه نه یوازې علماء کرام، بلکې د ټولنې لپاره مسئول، با احساسه، او پر دیني ارزښتونو ولاړ شخصیتونه روزي. نوله همدې امله، د دواړو بنسټونو ارزښت ډېر لوړ او د پام وړ دی.

په ورته وخت کې، عصري علوم د تخنیکي، علمي او مسلکي پوهې سرچینې دي. دا بنسټونه زده‌کوونکي د ساینسي او نوې ټکنالوژۍ سره آشنا کوي. د همدې ښوونځیو پر مټ، ملتونه د فقر له کړاوونو خلاصېږي، اقتصاد وده کوي، روغتیایي خدمتونه پراخېږي، او د حکومتولۍ بنسټونه غښتلي کېږي. خو که دا پرمختګ د ټولنیز مسئولیت او د دیني هویت او ارزښت له درک سره یوځای نه وي، نو د علم یا پوهې زده کړه به نه د انسانیت درد دوا کړي او نه به هېواد ته د ښه زیري جوګه وي.

د افغانستان لپاره چې تر اوږدو کلونو ناخوالو وروسته لله الحمد اسلامي نظام حاکم او په ټول افغانستان کې د سولې او امن لمن خوره او د ملي یووالي او وروروولۍ فضا را منځ ته شوې د دیني او عصري علومو ودې او پرمختګ ته د ځانګړې پاملرنې او زیار وخت دی. د پوهنې وزارت تل هڅه کړې چې په دواړو برخو کې متوازن ښوونیز نظام رامنځته کړي؛ داسې یو ښوونیز نظام چې د دیني اصولو پر بنسټ د علم او پوهې په ګانه سمبال ځوانان وروزي او د عصري علومو پر بنسټ مسلکي او نوښتګر نسلونه د ټولنې د خدمت لپاره وړاندې کړي.د پوهنې وزارت، د ملت د تعلیمي تګلارې لوی بنسټ په توګه، ژمن دی چې د دیني او عصري تعلیم ترمنځ همغږي ته وده ورکړي. دا وزارت باور لري چې د دواړو تعلیمي مسیرونو ترمنځ یووالی، زموږ د هېواد د ثبات، سولې، او پرمختګ لپاره حیاتي ګام دی.

راځئ چې تعلیم د یووالي، زغم او پرمختګ وسیله وګرځوو. افغانستان هغه مهال پرمختګ کولی شي چې زموږ زلمیان تر هر څه د مخه په دیني علومو سمبال، او د دیني علومو او ارزښتونو په رڼا کې د عصري علومو زده کول به یې هیڅ کله هم د سمې لارې څخه کوږ نه کړي ځکه داوړه علومو زده کول د انسان د شخصیت په وده او جوړېدو کې مهم رول لري. او دا جګړو ځپلی هېواد به هم هغه مهال د ترقۍ لوړو پوړیو ته ورسېږي چې زموږ ځوانان په دواړو علومو سمبال وي دا زموږ ملي مسؤلیت دی، او د هر وګړي، هر ښوونکي، هر عالم، او هرې کورنۍ ګډ رسالت دی چې د علم او زده کړې دا کاروان تر خپل تاکل شوي منزله ورسوي.

## دیدار وزیر معارف از دارالعلوم حضرت علی (کرم الله وجهه) در ولسوالی شکردره ولایت کابل



محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا وزیر معارف در حالی که از سوی شماری از مسئولان همراهی می شد از دارالعلوم حضرت علی کرم الله وجهه در ولسوالی شکردره ولایت کابل دیدن نمود.

محترم وزیر معارف حین ورود به دارالعلوم یاد شده، از سوی مهتمم، استادان و طلاب دارالعلوم متذکره مورد استقبال گرم قرار گرفته و متعاقباً در نشستی که با مسئولان، استادان و طلاب آن دارالعلوم داشت، ضمن استماع گزارش مختصر روند آموزشی آن نهاد تعلیمی، در رابطه به بهبود امور درسی و تربیه سالم اولاد وطن به روحیه اسلامی و خدمت به جامعه و وطن، یک سلسله هدایات و مشوره های مفید و ارزشمندی را به استادان و طلاب آن دارالعلوم سفارش نموده و در رابطه به پیشنهاد ها و حل مشکلات ارائه شده، وعده همکاری سپرد.

همچنان مسئولان و استادان دارالعلوم یاد شده نیز علاوه از خوش آمدگویی و اظهار خرسندی از تشریف آوری رهبری وزارت معارف به آن مرکز، از اجرای به موقع و صادقانه فیصله ها و اوامر رهبری این وزارت در راستای تعلیم و تربیه سالم جوانان و طلاب، اطمینان دادند.

## تقدیر یک تن شاگرد با استعداد از سوی رهبری وزارت معارف



سمیع الله شاگرد خوردسال مکتب که دارای ذکاوت خاص و هوش بی مانند در بخش علوم ریاضیات می باشد از سوی هیئت رهبری وزارت معارف مورد تشویق و ستایش قرار گرفت.

در محفل که به همین مناسبت راه اندازی گردیده بود محترم مولوی عبدالولی سداد رئیس ارزیابی استعدادهای...

ص۳

## د پوهنې وزیر د کابل له والي سره وکتل

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا په خپل کاري دفتر کې د کابل له والي محترم ملا امین الله «عبید» آغا سره وکتل. په دې کتنه کې دواړو لورو ولسوالیو او لیرې پرتو سیمو ته د ښوونیزو چوپړونو لا پراختیا او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

د پوهنې وزیر د کابل والي ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ دا ډول لیدنې د دواړو ادارو ترمنځ د متقابلې همکارۍ له پلوه ګټورې او اغېزناکې وبللې.

ورپسې د کابل والي د هېواد د ماشومانو لپاره دښوونیزو او روزنیزو خدمتونو د متوازن پرمختګ په برخه کې د پوهنې وزارت له هڅو ستاینه وکړه او هغه یې غوره وبللې.

همدارنګه د کابل والي د پراختیایي پروګرامونو په پلي کولو کې د پوهنې وزارت سره د هراړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د پوهنې وزارت د مقام د دفتر نوی رئیس معرفي شو

د پوهنې وزارت د مقام د دفتر نوی رئیس محترم شیخ محمد طارق طاؤس، د ښوونې او روزنې معین او د یاد وزارت کفیل محترم الحاج مولوي سخاءالله سعید له خوا، د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې معرفي شو.

په یادو مراسمو کې د پوهنې وزارت مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل، مرکزي ریاستونو رئیسان او ګڼ شمېر کارکوونکو هم حضور درلود.

په پیل کې، د ښوونې او روزنې معین او کفیل، د مقام د دفتر د مخکني رئیس محترم الحاج مولوي شهاب‌الدین ثاقب خدمتونه او هڅې وستایلې. نوموړي د نوی رئیس شیخ محمد طارق طاؤس لپاره د بریالیتوب هیله څرګنده کړه او له ټولو کارکوونکو یې وغوښتل چې د نوی رئیس سره په چارو کې بشپړه همکاري وکړي.

ورپسې د مقام د دفتر مخکني رئیس محترم الحاج مولوي شهاب‌الدین ثاقب د آمر د اطاعت...

۳مخ

## در این شماره


د خېښۍ، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان — ۲مخ

سفر معین تضمین کیفیت وزارت معارف به ولایت ننگرهار — صفحه ۴

په کندهار ولایت کې د څه باندې ۷۴ میلیونه افغانیو په لګښت د ۹ بابه ښوونځیو د ترمیم چارې بشپړې شوې — ۴مخ

# د خېښۍ، ودونو، مصيبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی فرمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ العٰلمين والصّلوٰة والسّلام علٰى سيِّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين.

**د واده په اړوندو امورو کې د رعايت وړ ټکي**

**لومړۍ ماده:**

(۱) د بالغې نجلۍ ولي چې اکثرو اوقاتو کې د هغې پلار يا ورور وي شرعاً مکلف دی، د هغې د شرعي حقوقو رعايت وکړي.

(۲) د بالغې نجلۍ ولي شرعاً مسئوليت لري، د هغې په کوزده کولو کې له هغې سره مشوره او د هغې مثبت نظر واخلي.

(۳) د بالغې نجلۍ ولي، شرعاً نشي کولای د هغې له خوښې پرته په اجبار سره يې چاته په نکاح ورکړي.

(۴) که د بالغې نجلۍ ولي، ياده نجلۍ د هغې له خوښې پرته په اجبار سره چاته په نکاح ورکړه، هغه کولای شي محاکمو او اړوندو ادارو ته شکايت او عريضه وکړي، په دې صورت کې د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله تعالی د (۱۴۴۳/۴/۲۷هـ ق) نېټې د (۸۳ج۱) ګڼه د ښځو د حقونو فرمان رعايت ضروري دی.

(۵) ښځه، د اسلام له نظره د نکاح کولو په موضوع کې د نارينه په څېر خپلواکه ده، په هېڅ صورت د چا مال نه ګرځي او د خپل خاوند له مړيني او يا طلاق وروسته د دې له خوښې او مشورې پرته يې خسرګنۍ او يا هم پلارګنۍ په زوره بل چاته په نکاح نشي ورکولای، په‌خپله خوښه چيرته او چا سره چې وغواړي، له شرعي اصولو سره سم نکاح کولای شي.

(۶) کوم مهر چې په نکاح کې ښځې ته ورکول کېږي، هغه د ښځې حق دی او څوک يې نشي ترې اخيستلی، په دې هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د (۱۴۴۳/۴/۲۷هـ ق) نېټې د (۸۳ج۱) ګڼه د ښځو د حقونو فرمان رعايت ضروري دی.

(۷) که څوک په کومه نجلۍ يا ښځه ډزې وکړي يا يې پيکی پرې کړي او يا ټادر پرې واچوي، په دې او يا په بلې طريقې سره په جبري توګه هغه خپله ښځه وګڼي، دا غيرشرعي عمل او جرم دی، داسې اشخاص دې داسلامي امارت محاکمو ته معرفي کړل شي، ترڅو د خپل جرم په سزا ورسيږي.

(۸) هغه کوزده چې د شاهدانو په مخ کې عقد (ايجاب او قبول) پکې نه وي شوی، شرعاً نکاح نه‌بلل کېږي.

(۹) په اسلامي شريعت کې د مهر کمه اندازه لس درهمه او زياته اندازه يې حد نه لري، که مېرمن راضي وي، په لس درهمه يا د هغې په معادل مال هم نکاح کېږي، که د هغې خوښه نه‌وي، بيا له زړه سوانده او خيرخواه پلار يا نيکه پرته نور خپلوان او يا بد اختياره پلار او نيکه نه شي کولای چې تر مهر مثل په کمه اندازه د هغې نکاح وتړي او که يې تر مهر مثل په کمه اندازه د هغې نکاح تړلې وي، داسې نکاح صحيح نه‌ده؛ مهر د مېرمنې حق دی، خپلوان د ځان لپاره يوه پيسه هم نه‌غوښتلی او نه‌اخيستلی شي.

الدرمختار مع ردالمحتار (۳ /۶۷)

(۱۰) اسلامي شريعت د مهر د کموالي ترغيب کړی دی؛ خلک دې هڅه وکړي چې د زيات مهراخيستلو رواج ختم او په کم مهر دې اکتفاء وکړي.

(۱۱) له مهر څخه علاوه د ولور، خوړې، بابېړي، طوياني او خوښي په نامه د خسرګنۍ له‌خوا او يا د نورو رواجونو په نوم پيسې اخيستل جائز نه‌دي، فقهاء کرام رحمهم الله يې رشوت ګڼي.

الدر المختار مع رد المحتار ( ۳ / ۱۵۶)

(۱۲) له کوزدې وروسته د پښه خلاصي يا پښه ارتي او شريني خوري (غټ دستمال) او يا په نورو نومونو سره ميلمستياوې جوړول، بېځايه رواجونه دي، ډېره دي ورڅخه وشي، د دوه ځله دستمال وړلو (غټ دستمال) اجازه نشته او په يو ځل دستمال (وړوکی دستمال) کې به هم د نارينه او ښځينه ميلمنو تعداد په کمه اندازه وي او په دې مراسمو کې له زوم او ناوې پرته بل چاته تحفې ورکول منع دي؛ البته زوم او ناوې ته تحايف به هم د وسعې مطابق يوازې جامې او نور د ډول او سينګار عادي شيان وي؛ موټر، موټرسايکل، کور (سرای) او داسې نور قيمتي شيان به په تحفه کې نه‌ورکول کېږي.

(۱۳) د دستمال مراسم به په هوټل کې نه‌وي؛ ځکه دا اسراف دی او الله تعالی فرمايلي دي: (يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ) (الاعراف: آيت ۳۱)،

# فرمان عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی در مورد جلوگيری از رواج‌های نادرست هنگام خويشی عروسی ها، مصيبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ العٰلمين والصّلوٰة والسّلام علٰى سيِّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين.

**نکات قابل رعايت در امور مربوط به عروسی**

**ماده اول:**

(۱) ولی دختر بالغ که اکثر اوقات پدر يا برادر وی می باشد، شرعاً مکلف است، حقوق شرعی وی را رعايت نمايد.

(۲) ولی دختر بالغ شرعاً مسئوليت دارد، در نامزد کردنش با وی مشوره کند و نظر مثبت وی را اخذ نمايد.

(۳) ولی دختر بالغ شرعاً نمی‌تواند، بدون رضايتش وی را به اجبار به شخصی به نکاح بدهد.

(۴) هرگاه ولی دختر بالغ، دختر مذکور را بدون رضايت وی به اجبار به شخصی به نکاح بدهد، وی می‌تواند به محاکم و ادارات مربوط شکايت و عريضه کند، در اين صورت، رعايت فرمان شماره (۸۳ج۱) مؤرخ (۱۴۴۳/۴/۲۷هـ.ق) عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی ضروری است.

(۵) زن از نظر اسلام در موضوع نکاح کردن مانند مرد مستقل است، به هيچ صورت مال کسی نمی‌گردد و بعد از فوت شوهر خود يا طلاق، بدون رضايت و مشورۀ وی، خانوادۀ خسر و يا هم خانوادۀ پدر نمی‌تواند وی را به زور به شخص ديگری به نکاح بدهد، وی با رضايت خود در جايی و با هر شخصی که بخواهد، مطابق اصول شرعی نکاح کرده می تواند.

(۶) مهری که در نکاح به زن داده می‌شود، حق زن است و شخصی نمی تواند آنرا از وی بگيرد، در اين مورد رعايت فرمان شماره (۸۳ج۱) مؤرخ (۱۴۴۳/۴/۲۷هـ. ق) عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی ضروری است.

(۷) هرگاه شخصی بر دختر يا زنی فير کند يا پيکی وی را قطع کند و يا بالای وی چادر بيندازد، با اين و يا طريقۀ ديگر جبراً وی را خانم خود بپندارد، اين عمل غير شرعی و جرم است، چنين اشخاص به محاکم امارت اسلامی معرفی شوند تا به سزای جرم خويش برسند.

(۸) نامزدی که در آن عقد (ايجاب و قبول) در حضور شاهدان صورت نگرفته باشد، شرعاً نکاح محسوب نمی‌شود.

(۹) در شريعت اسلامی، اندازۀ کم مهر ده درهم و اندازۀ زياد آن حد ندارد، اگر زن راضی باشد، با ده درهم يا با مال معادل آن نيز نکاح صورت می گيرد، اگر رضايت وی نباشد، پس به جز از پدر يا پدرکلان دلسوز و خيرخواه، خويشاوندان ديگر و يا پدر و پدرکلان بد اختيار نمی توانند که به مهر کمتر از اندازۀ مهر مثل نکاح وی را عقد نمايند و اگر به اندازۀ کمتر از مهر مثل نکاح وی را عقد کرده باشند، چنين نکاح صحيح نيست؛ مهر حق زن است، خويشاوندان برای خود هيچ پولی را نه طلب و نه اخذ کرده می‌توانند. الدرمختار مع ردالمحتار (۳ /۶۷)

(۱۰) شريعت اسلامی، به کم کردن مهر ترغيب کرده است؛ مردم سعی کنند که رواج گرفتن مهر زياد را ختم نمايند و به مهر کم اکتفاء کنند.

(۱۱) علاوه بر مهر، اخذ پول به نام ولور، خوړې (اشياء و اجناس خوراکی که يک يا دو روز قبل از عروسی، داماد به خانۀ عروس می‌برد)، بابېړي (اضافه ستانی از مهر تعيين شده)، طويانه و خوښي (مصرف عروسی) از طرف خانوادۀ خسر و يا به نام رواج های ديگر جايز نيست، فقهای کرام رحمهم الله آنرا رشوت محسوب می نمايند. الدر المختار مع رد المحتار ( ۳ / ۱۵۶)

(۱۲) بعد از نامزدی، برگزاری مهمانی‌ها پايوازی و شيرينی‌خوری (دستمال کلان) و يا به نام های ديگر، رواج های بی‌جا است از آن اجتناب شود، اجازۀ دوباره بردن دستمال (دستمال کلان) نيست و در يکبار دستمال (دستمال خُرد) تعداد مهمانان مرد و زن نيز به اندازۀ کم باشد و تحفه دادن به جز از داماد و عروس به شخص ديگری در اين مراسم، منع است؛ البته تحايف به داماد و عروس نيز مطابق توان؛ فقط لباس و اشيای عادی زينت و سينگار باشد؛ موتر، موترسايکل، خانه (منزل) و ساير اشيای قيمتی در تحفه داده نمی‌شود.

(۱۳) مراسم دستمال در هوتل نباشد؛ زيرا اين اسراف است و الله تعالی فرموده است: (يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ) (الاعراف: آيت ۳۱).

ژباړه: ای زامنو د آدمه! واخلئ تاسې زینت (ښائست) خپل په نزد (د وخت) د هر لمانځه (په اغوستلو د پاکو کالیو(جامو) د عورت ستر) او خورئ او څښئ او اسراف (بې ځایه خرڅ) مه کوئ تاسې بې شکه چې الله نه خوښوي مسرفان (بې ځایه خرڅ کوونکی). (کابلی تفسیر)

(۱۴) له کوزدې او نکاح وروسته دې هڅه وشي چې د امکان په صورت کې هر څومره چې ژر وي، واده وشي.

(۱۵) له کوزدې وروسته رواجي او تکراري پوښونه (جوړې) منع دي، په کال کې یو ځل د زوم لهخوا یوازې ناوې ته له اسراف پرته د وسعې مطابق د پوښ (جوړې) وړلو اجازه شته، د ناوې لهخوا زوم ته پوښ (جوړې) وړل مطلقاً منع دي.

(۱۶) د ولیمې او واده مراسم به له اسراف او ریاء پرته د زوم د وسعې مطابق د هغه د خوښې په ځای او موټرو کې ترسره کېږي، خسرګنی یې نهشي مجبور کولای چې په هوټل، یا قیمتي موټرو کې د واده مراسم ترسره کړي.

(۱۷) زوم به د واده مراسم په امارتي موټرونو کې نه ترسره کوي.

(۱۸) د واده پر وخت د زوم لهخوا دې د ناوې کورنۍ ته خوړې یا طوی (پاخه یا خام خوراک) نه وروړل کېږي، همدارنګه د بولې(شیریني خورۍ) او جوړې د مصارفو اخیستل او غوښتل هم منع دي او همداراز له زوم څخه د دودي او ټکري په نوم او یا په نورو نومونو رختونه غوښتل منع دي او د شریعت لهمخې د یادو شیانو اخیستل ناجائز کار دی. (رد المحتار ) ( ۶/ ۴۲۴)

(۱۹) د ناوې وړلو پر وخت د ناوې د ماما، د ناوي د همزولو، د کلیوالو او یا بل خدمتګار لهخوا او یا د دوی لپاره د زوم له کورنۍ څخه پیسې غوښتل منع دي، البته که د کلي خدمتګار ته چې همېشه په ښادیو کې د کلیوالو خدمت کوي په خپله خوښه څوک د صدقې په نوم پیسې ورکوي، باک نه لري.
الدر المختار مع رد المحتار( ۳/ ۱۵۶)

(۲۰) په ودونو کې د لوبو داسې مسابقې جوړول چې ګټونکي ته د موټر، موټرسایکل یا بل شي انعام ورکول کېږي منع دي، ترڅو د بېځایه اسراف مخه ونیول شي، البته د جائزو لوبو مسابقې چې انعام پکې نهوي، جوړېدای شي.

(۲۱) د کوزدې، دستمال یا واده د مراسمو پرمهال ډزې (ټکان) کول او له امارتي وسایطو څخه استفاده کول منع دي؛ همدارنګه په ورته مراسمو کې د موټرو او موټرسایکلو ځغلول، لویې وراوې تیارول او یا داسې نور کارونه چې د لارې د بندېدو یا د تلفاتو او یا د خلکو د اذیت سبب کېږي، منع دي.

(۲۲) په واده کې یا له هغه وروسته ناوې ته د نورو کورونو د نارینهوو او ښځینهوو لهخوا برخه (جامې /پیسې) ورکول او بیا د ناوې لهخوا په عوض کې برخه ورکول منع دي؛ ځکه له دې ناوړه رواج څخه یو درونډ تکلیف رامنځته شوی او بده لا دا چې د هر څه عوض به بېرته ورکوي چې د محبت پرځای نفرت پیدا کوي.

(۲۳) د دستمال په مراسمو کې به د زوم له کور پرته نور مېلمانه ناوې ته د پیسو ډالۍ نهورکوي او نه به د ناوې کورنۍ مېلمنو ته جامې او نورې ډالۍ ورکوي، البته له اسراف او ریاء پرته د مېلمنو اکرام پروا نهکوي.

(۲۴) بدل/ موخې ښه عواقب نهلري حتی الامکان دې ترې ډډه وشي، د بدل/موخې په صورت کې د مهر ټاکل او ورکول ضروري دي، علماء کرام دې د بدل/موخې د کراهیت په هکله خلکو ته پوهاوی ورکړي. الدر مختار مع رد المحتار (۳/۱۰۶)

ترجمه: ای فرزندان آدم! بگیرید شما زینت (زیبایی) را نزد خویش (از وقت) از هر نماز (به پوشیدن لباس پاک، ستر عورت و بخورید و بنوشید و اسراف (مصرف بی جا) نکنید، شما، بدون شک الله خوش ندارد مسرفان (اسرافکنندگان) را. (تفسیر کابلی)

(۱۴) بعد از نامزدی و نکاح، سعی شود که در صورت امکان هرچه زودتر، عروسی صورت گیرد.

(۱۵) بعد از نامزدی، پوشاک (لباس‌های) رواجی و تکراری منع است، یکبار در سال اجازۀ بردن پوش (لباس) فقط به عروس از طرف داماد مطابق توان بدون اسراف می‌باشد، بردن پوشاک (لباس‌ها) از طرف عروس به داماد مطلقاً منع است.

(۱۶) مراسم ولیمه و عروسی بدون اسراف و ریاء، مطابق با توان داماد و در مکان و موترهای دلخواه وی برگزار می شود، خانواده عروس نمی‌تواند داماد را مجبور کند که مراسم عروسی را در هوتل یا موترهای قیمتی برگزار نماید.

(۱۷) داماد مراسم عروسی را در موترهای امارتی برگزار نکند.

(۱۸) حین عروسی، از طرف داماد به خانوادۀ عروس خوراکی یا طوی (خوراک پخته یا خام) برده نمی‌شود، همچنین طلب و اخذ مصارف شیرینی‌خوری و پوشاک منع است، همچنان طلب رخت ها به نام دودی و چادر و یا با سایر نام ها از داماد منع است بر اساس شریعت اخذ اشیای متذکره عمل ناجائز است.(رد المحتار ) ( ۶/ ۴۲۴)

(۱۹) حین انتقال عروس، طلب پول از طرف مامای عروس، هم‌سالان عروس، اهالی قریه و یا خدمتگار دیگری و یا برای آنان از خانواده داماد، منع است، البته اگر شخصی به نام صدقه به رضایت خود به خدمتگار قریه که همیشه در خوشی ها خدمت اهالی قریه را می نماید، باکی ندارد. الدر المختار مع رد المحتار( ۳/ ۱۵۶)

(۲۰) برگزاری مسابقاتی در عروسی که به برندۀ آن موتر، موترسایکل یا چیز دیگری انعام داده می‌شود، منع است، تا از اسراف بیجا جلوگیری شود، البته مسابقات بازی‌های جایز که در آن انعام نباشد، برگزار شده می تواند.

(۲۱) فیرکردن (تیراندازی) و استفادۀ وسایط امارتی حین مراسم نامزدی، دستمال یا عروسی منع است؛ همچنان، تیزرانی موترها و موترسایکل‌ها، آماده کردن کاروان‌های بزرگ و یا این چنین اعمالی که سبب مسدودیت راه یا تلفات و یا اذیت مردم می شود، منع میباشد.

(۲۲) در عروسی یا بعد از آن، رونمایی (لباس /پول) دادن از طرف مردان و زنان خانواده های دیگر به عروس و سپس از طرف عروس در عوض آن، رونمایی دادن منع است؛ زیرا از این رواج ناپسند تکلیف سنگین به وجود آمده و بدتر اینکه عوض هر شی را دوباره می‌دهند که به جای محبت، نفرت ایجاد می‌کند.

(۲۳) در مراسم دستمال، به جز از خانوادۀ داماد مهمانان دیگر، به عروس تحفۀ پول ندهند و نه خانوادۀ عروس به مهمانان لباس‌ها و تحایف دیگر بدهند، البته اکرام مهمانان بدون اسراف و ریاء پروا ندارد.

(۲۴) بدل عواقب خوبی ندارد و حتی الامکان از آن اجتناب شود، در صورت بدل، تعیین و پرداخت مهر ضروری است، علمای کرام در مورد کراهیت بدل به مردم آگاهی بدهند.
الدر مختار مع رد المحتار (۳/۱۰۶)

## تقدیر شاگرد با ذکاوت...

وزارت معارف با اشاره به استعداد خارق‌العاده و خدا دادگی سمیع الله تصریح کرد: «امید مردم ما به نو نهالان و جوانان ما وابسته است؛ بناء آن ها باید در فراگیری علم چنان تلاش کنند که همه آرزوی های ملت رنجدیده ما برآورده شود.»

در ادامه محترم الحاج مفتی محمد یوسف ثاقب، رئیس تعلیمات اساسی و ثانوی وزارت معارف نیز طی سخنان شان گفت: « وزارت معارف متعهد به ارجگذاری و رشد استعدادهای نهفته تمام طلاب و شاگردان است تا در آینده آنان به کادرهای متخصص و مفاخر علمی کشور مبدل شوند.»

سپس محترم الحاج مولوی صبغت‌الله وصیل معین مالی و اداری وزارت معارف، ضمن نصایح مهم و بنیادی برای طفل خورد سال نابغه، اذعان داشت: «الله متعال به برخی افراد استعدادهای فطری بخشیده است که سمیع‌الله نیز یکی از آن‌هاست، وزارت معارف این را مسئولیت خود می‌داند که تمام اطفالی را که دارای استعدادهای خاص اند، جهت رشد استعداد های شان مورد تشویق و حمایت های همه جانبه قرار دهد.

موصوف افزود: « وزارت معارف برای شاگردان بااستعداد سراسر کشور مانند سمیع‌الله جان، یک مکتب نمونه‌ای را افتتاح کرده است تا آنان بتوانند با استفاده از تسهیلات لازمی آموزشی، وسایل درسی مدرن و استادان مجرب، دروس شان را به وجه احسن به پیش ببرند.»

در اخیر محفل به سمیع الله شاگرد دارای استعداد فوق العاده در بخش ریاضیات، با اهدای تحایف نقدی مبلغ ۵۰ هزار افغانی و یک پایه کمپیوتر والبسه از جانب رهبری وزارت معارف مورد تشویق و شفقت قرار گرفت.

## د پوهنې وزارت د مقام د دفتر ...

د نظم او انضباط په اهمیت او د اداري چارو د پرمخ بیولو په اصولو مفصلې خبرې وکړې. هغه له کارکوونکو وغوښتل چې د نوي رئیس سره له صمیمي همکارۍ او وفادارۍ څخه کار واخلي او له نوي رئیس یې د کارکوونکو په وړاندې د شفقت او مهربانۍ غوښتنه وکړه.

همدارنګه، د مقام د دفتر نوي رئیس شیخ محمد طارق طاؤس په خپلو خبرو کې ژمنه وکړه هغه مسئولیت چې د افغانستان اسلامي امارت د رهبري عالي مقام له لوري ورته سپارل شوي په پوره اطاعت سره به یې تر سره کړي. نوموړي زیاته کړه، چې د خپلې مسلکي تجربې او وړتیاوو په رڼا کې به د پوهنې وزارت د چارو د ښه سمون او پرمختګ لپاره په اخلاص سره کار وکړي.

غونډه د پوهنې وزارت د مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل په دعائیې سره پای ته ورسېده

## په کندهار ولایت کې د ...

د اصلاح، هوساینې او د هېواد پرمختګ په برخه کې د علم د ارزښت په اړه خبرې وکړې او له خلکو یې وغوښتل چې په مدارسو او ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو شاملولو لپاره هڅې وکړي او د پوهنې وزارت له پروګرامونو څخه مادي او معنوي ملاتړ وکړي.

علماءکرامو او ځایي اوسېدونکو هم د خپلو ویناوو پرمهال، په ټول هېواد کې د تعلیمي مرکزونو د پراختیا په برخه کې د پوهنې وزارت د مشرتابه له هڅو ستاینه وکړه او د هېواد له پوهنیز نظام څخه یې د خپل ملاتړ ډاډ ورکړ.

## د کابل ولایت پوهنې نوی رئیس ...

پراختیا ژمنتیا، تخصص او د اړوندو ادارو ترمنځ بشپړې همغږۍ ته اړتیا لري.

ورپسې د یادې اداري پخواني رئیس محترم الحاج مولوي عبدالحق حقاني مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او د دې اداري نوي رئیس ته یې مبارکي وویله او د پوهنې وزارت څخه یې د څو کلونو لپاره د دغه باور سپارلو له امله مننه وکړه.

د مراسمو په پای کې، د کابل ولایت پوهنې نوي رئیس هم د پوهنې وزارت د مشرتابه له باور څخه د مننې ترڅنګ ژمنه وکړه چې د تېرو تجربو او موجوده وړتیاوو څخه په استفادې سره به د کابل ولایت د زدهکوونکو او ښوونکو د علمي او پوهنیز پرمختګ لپاره نه ستړې کېدونکي هڅې وکړي.

**Marif**
**Weekly**

**کتنپلاوی:** شیخ محمد طارق «طاؤس»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتي حبيب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**صفحه آرا:** محمد قسيم «يعقوبي»
**شمېر:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**د پوهنې کاروان مينه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې ليکنې، وړانديزونه او نيوکې په لاندې برېښنا ليک او او شمېرې زموږ سره شريکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکي شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 307 /2025

# سفر معین تضمین کیفیت وزارت معارف به ولایت ننگرهار



محتـرم الحـاج مولـوی عبدالخالـق صـادق معیـن تضمیـن کیفیـت وزارت معـارف بـه هـدف بررسـی وضعیـت تعلیمـی ولایـت ننگرهـار بـه آن ولایـت سـفر نمـوده و از شـماری مکاتـب دیـدن نمـود. معیـن تضمیـن کیفیـت همچنـان در همراهـی بـا مسـئولان معـارف آن ولایـت بـه ولسـوالی خوگیانـی رفتـه، ضمـن دیـدار از شـماری مراکـز تعلیمـی آن ولسـوالی از ابتدائیـه حکیـم آبـاد آن ولسـوالی نیـز دیـدن نمـود.

وی در دیدارهایـی کـه بـا مسـئولان، اسـتادان و شـاگردان مکاتـب داشـت، مشـکلات و ضروریـات تعلیمـی آن هـا را شـنیده و در حـل آن وعـده همـکاری سـپرد.

همچنـان معیـن تضمیـن کیفیـت در دیـدار بـا مسـئولان مکاتـب بـه تربیـه سـالم و تدریـس بـا کیفیـت از سـوی اسـتادان تأکیـد کـرده، از شـاگردان خواسـت تـا دروس شـان را نـه بـرای امتحـان، بلکـه بـه خاطـر تقویـه سـطح سـویه علمـی خویـش بخواننـد تـا باشـد ان شـاءالله در آینـده مصـدر خدمـات صادقانـه بـرای مـردم و وطـن خویـش شـوند.

مسـئولان و اسـتادان مکاتـب نیـز تشـریف آوری معیـن وزارت معـارف را بـه آن ولسـوالی خیـر مقـدم گفتـه وعـده هرگونـه تـلاش را بـه منظـور تدریـس بهتـر و تربیـه سـالم اولاد وطـن سـپردند.

## د کابل ولایت د پوهنې نوی رئیس معرفي شو

د پوهنـې وزارت د کیفیـت تضمیـن د معیـن محترم الحـاج مولـوي عبدالخالـق صـادق لـه خـوا، د یـو لـړ مراسـمو پـه تـرڅ کـې، محتـرم الحـاج مولـوي عبدالسـلام شـعیب د کابـل ولایـت پوهنـې نـوي رئیـس پـه توګـه پـه رسـمي ډول د یـادې اداري کارکوونکـو تـه وروپیژنـدل شـو.

پـه دې مراسـمو کـې د کابـل ولایـت پوهنـې ریاسـت د چارواکـو او منسـوبینو سـربېره، یـو شـمېر علماءکرامـو، د کابـل ولایـت د څوارلـس ګونـو ولسـوالیو پوهنـې آمرینـو او د خلکـو اسـتازو ګـډون درلـود.

پـه پیـل کـې د پوهنـې وزارت محتـرم معیـن، د کابـل ولایـت د پوهنـې پخوانـي رئیـس، محتـرم الحـاج مولـوي عبدالحـق حقانـي د صادقانـه خدمتونـو څخـه د مننـې ترڅنـګ، د پوهنـې نـوي رئیـس پـه توګـه د محتـرم الحـاج مولـوي عبدالسـلام شـعیب د ټـاکل کېـدو مبارکـي وویلـه او هغـه تـه یـې د خپلـو ورسـپارل شـویو دنـدو پـه ترسـره کولـو کـې د بریالیتـوب او اسـتقامت هیلـه وکـړه.

نومـوړی ټینـګار وکـړ چـې پـه اوسـنیو شـرایطو کـې د پوهنیـز نظـام...

۳مخ

## گذاشتن سنگ تهداب یک باب مدرسه دینی در ولایت پروان

سـنگ تهـداب یـک بـاب مدرسـه دینـی در روسـتای دولانـه شـهر چاریـکار مرکـز ولایـت پـروان بـه هزینـه دو میلیـون و هشـت صـد هـزار افغانـی بـا حضـور رئیـس، مسـئولین معـارف و شـماری از مسـئولان سـایر ادارات محلـی و نماینـدگان مـردم محـل گذاشـته شـد.

ابتـداء مسـئولان معـارف ولایـت پـروان در رابطـه بـه اهمیـت علـم و دانـش در جامعـه صحبـت نمـوده در مـورد برنامـه هـای توسـعوی وزارت معـارف معلومـات ارائـه نمودنـد.

سـپس محتـرم حافـظ مجیـب اللـه رحیمـی، رئیـس اقتصـاد ولایـت پـروان نیـز ضمـن صحبت پیرامـون نقـش آمـوزش و تربیـت جوانـان، از مسـئولان نهـاد هـای تعلیمـی و تربیتـی خواسـت تـا شـاگردان را بـه روحیـه اسـلامی و وطـن دوسـتی تربیـت نماینـد.

بـه گفتـه مسـئولان ایـن مدرسـه بـه شـکل پخته و اساسـی بـا درنظـر داشـت سـایر امکانـات و تجهیـزات آن، بـه همـکاری مالـی یکـی از نهـاد هـای همـکار بـا وزارت معـارف، اعمـار مـی گـردد کـه قـرار اسـت در کمتـر از یـک سـال بـه بهـره بـرداری سـپرده شـود.

## په کندهار ولایت کې د څه باندې ۷۴ مېلیونه افغانیو په لګښت د ۹ بابه ښوونځیو د ترمیم چارې بشپړې شوې

د کندهـار ولایـت د پوهنـې ریاسـت مسـئولین وایـې چـې د یـاد ولایـت پـه ۵ ولسـوالیو کـې د یـوې همـکارې ادارې پـه مالـي مرسـته د ۷۴ مېلیونـو ۳۵۴ زره او ۱۴۸ افغانیـو پـه لګښـت د ۹ بابـه ښـوونځیو د ترمیـم چـارې بشـپړې او ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوې.

د کندهـار پوهنـې ریاسـت د معلوماتـو لـه مخـې یـاد ښـوونځي پـه معـروف، سـپین بولـدک،



ارغسـتان، ډنـډ او دامـان ولسـوالیو کـې ترمیـم شـوي دي چـې اوسـمهال یـې چـارې بشـپړې او د یـوې غونـډې پـه تـرڅ کـې چـې د کندهـار ولایـت د پوهنـې ریاسـت مسـئولینو، علمـاء کرامـو او قومـي مخـورو ګـډون درلـود ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـول.

دکندهـار ولایـت پوهنـې ریاسـت مسـئولینو او نـورو وینااوالـو د ټولنـې...

۳مخ

## افتتاح یک باب مکتب ابتدائیه به هزینه ۱۹ میلیون افغانی در ولایت فاریاب

مکتـب ابتدائیـه بـی بـی حفصـه رضـی اللـه عنهـا در مربوطـات ولسـوالی گرزیـوان ولایـت فاریـاب طـی محفـل بـا حضـور محتـرم الحـاج مولـوی حمیداللـه ارشـاد رئیـس و مسـئولان معـارف، رئیـس شـورای علمـای کـرام و شـماری از باشـنده ګان محـل افتتـاح و بـه بهـره بـرداری سـپرده شـد.

بـر اسـاس معلومـات مسـئولان ریاسـت معـارف ولایـت فاریـاب هزینـه سـاخت مکتـب ابتدائیـه یـاد شـده ۱۹ میلیـون افغانـی بـوده کـه از سـوی یـک نهـاد همـکار تمویـل گردیـده اسـت. بـه گفتـه مسـئولان مکتـب ابتدائیـه بـی بـی حفصـه رضـی اللـه عنهـا دارای ۸ صنـف درسـی، اتـاق هـای اداری و لابراتـوار بـوده و سـایر تاسیسـات ضـروری نیـز در سـاخت مکتـب مذکـور در نظـر گرفتـه شـده اسـت کـه بـا سـاخت آن زمینـه فراگیـری آمـوزش بـرای صدهـا تـن اطفـال محـل در فضـای مناسـب فراهـم گردیـده اسـت.

## د پکتیکا ولایت د یو شمېر مدارسو له زده‌کوونکوو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه



د پکتیـکا ولایـت پنځـو ولسـوالیو د ۴۵ بابـه دینـي مدارسـو لـه ۲۵۰۰ تنـو څخـه زیاتـو زده‌کوونکـو سـره د یـوه مرسـتندویه بنسـټ لـه لـوري د یـو مېلیـون او ۸۰۰ زره افغانیـو پـه ارزښـت د خوراکـي توکـو مرسـته وشـوه.

پـه یـاده مرسـته کـې اوړه، وریجـې، غـوړي، چـای، بـوره او نـور اړیـن خوراکـي توکـي شـامل دي.

د یـاد ولایـت پوهنـې ریاسـت مسـئولینو د مدارسـو لـه زده‌کوونکـو سـره د دې مرسـتو لـه املـه لـه مرسـتندویه بنسـټ او علـم دوسـته هېوادوالـو مننـه وکـړه.

**بی تفاوتی والدین در قبال تعلیم، تربیه و رفتار های نامطلوب اطفال باعث ندامت و پشیمانی فردا می گردد.**